مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۴/۰۵/۰۵

# د پوهنتون خاطرې

## (۱۷)




د یکشنبې او چهار شنبې له ماسخوتن لمانځه وروسته به یوه کوچینۍ ډله قلم او کتابچه په لاس محصلین بلاک په بلاک ګرځېدل. دوی به د هغو محصلانو نومونه لیکل چې غوښتل یې د هم هغو شپو په سبا ثوابي روژې ونیسي. دوی به دا لیست پخلنځي ته ورکاوه او هلته به بیا د نوملړ مطابق چرګبانګ/ پیشنمی، تیارېده.
په فرضي روژه کې به د لیلیې په جومات کې، په تراویحو کې ختم کېده. دا ختم به لکه د ځینو قراردادي ختمونو په څیر نه و چې مقتدیان یې یوازې د الله اکبر په اوریدلو خبرېږي او نور قاري صیب په داسې سپیډ روان وي چې څوک هیڅ نپوهیږي څه وایي. زموږ جومات کې به یو خوش الحانه قاري صیب مخکې شو، په شرنګېدلي غږ به یې ملکوتي کلام داسې په خوند خوند تلاوت کاوه چې روح ته به یې تازګي بخښله. موږ به په ټول ذوق او دقت د (أَنْصِتُوا) په ډله کې وو او د (تُرْحَمُونَ) په امید به وو. په لومړیو ورځو کې به قاري صیب، معمولا شاوخوا درې – څلور پارې تلاوت کولې او بیا به ورو- ورو دا اندازه را کمیده.
د جومات کېڼ پلو ته به ځای ځای سپینې پردې، راتاوې وې. دا به د ځینو محصلینو د اعتکاف ځایونه ول او چې څنګه به تراویح خلاصې شوې؛ نو پردې به یې پورته کړې او ژر به ور ننوتل.
یوه شپه چې ختم ته راغلم مخکېنې ټول صفونه ډک ول. زه وروستي صف ته شوم. چې د تراویحو د نیت تړلو وخت شو؛ بل ملګري د انتظار اشاره راکړه. غلی، له صف شاته شوم. چې قاري صیب قرائت شروع کړ نو له هغه ملګري سره یو ځای مو یوه پرده پورته کړه او ور ننوتلو.
نخود، ممیز، خرما، وچې شیدې، بوره، د چای ترموز او پیالې ایښې وې. زما ملګري لکه چې پخوا هم دغسې کومه کامیابه چاپه وهلې وه. وچې شیدې او بوره یې پیالو کې واچولې، په ډېر احتیاط یې پې چای راخوشې کړ، پیالې ډکې شوې او یو خوندور شیرچای تیار شو. چې قاري صیب د لومړي رکعت پای ته نږدې کېده؛ نو موږ یوه پیاله شیرچای او یوه پیاله شین چای له وچې میوې سره نوش جان کړې و. عبادت ته مو ښه انرژي واخیسته او بیا وروستي صف کې په داسې انداز ځای په ځای شوو، لکه تازه چې جومات ته داخل شوي یوو. خدای ج دې معافي کوي؛ له دې نعمتونو مې یو – دوه ځلې نوره هم اعظمي استفاده وکړه.

**نوټ:**

په ژوند اعتبار نشته؛ که هغه محصلین ژوندي وي، یا یې خپلو ورثه و ته په دې اړه کوم وصیت کړی وی؛ نو لطفا دې له اصلي برېښنایي تذکرې او یا برېښنایي پاسپورټ سره، د همدې میاشتې تر پایه مراجعه وکړي چې دوه موټې نخود او ممیز، ۲۰ خرما، درې پیالې د وچو شیدو چای او درې پیالې شین چای ور وسپارم. دا اعلان د ټاکل شوې نیټې له پای ته رسیدو وروسته، د اعتبار وړ نه دی!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ